مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شمس‌الرحمن ماموند

۲۰۲۶/۱۰/۲۸

# د کونړ د علم، ادب او فرهنګ ځلانده ستوری،

# ارواښاد ډاکتر کبیر ستوری

له ارواښاد ډاکتر کبیر ستوري سره زما د لومړی ليدني او له ۱۹۹۵ کال راهيسي د نه هېرېدونکو خاطرو يادونه.

ځيني انسانان له دې فاني نړی څخه سترګي پټوي، خو د هغوی خوږې خبرې، نېک اخلاق، علمي شخصيت، انساني مينه او له خاطرو ډک مجلسونه د خلکو په زړونو کي د تل لپاره ژوندي پاتي کېږي. ارواښاد ډاکتر کبير ستوری هم له همدغو نه هېرېدونکو شخصيتونو څخه و.

نن غواړم له خپلو درنو دوستانو، د علم، ادب او فرهنګ له مينه‌والو او په ځانګړې توګه د کونړ له قدرمنو ولسونو سره د خپل ژوند يوه خوږه، تاريخي او نه هېرېدونکي خاطره شريکه کړم، هغه خاطره چي شاوخوا يو دېرش کاله پرې تېر شوي، خو لا هم يې هره خبره او هره شېبه زما په ذهن او زړه کي ژوندی ده.

د لومړی ټيليفوني اړيکي خوږې خاطرې
شاوخوا د ۱۹۹۵ زېږديز کال خبره ده. زه تازه جرمني ته راغلی وم. په هغه وخت کي زموږ د يوه اشنا لپاره د يوې شخصي ستونزې په تړاو طبي تصديقپاڼي ته اړتيا وه.
څرنګه چي ارواښاد ډاکتر کبير ستوری د ارواپوهني متخصص او يو پېژندل شوی علمي او فرهنګي شخصيت و، نو د هغه د ټيليفون شمېره مو پيدا کړه او د لومړي ځل لپاره مو ورسره ټيليفوني اړيکه ونيوله.

له ډاکتر صاحب سره مو خبرې پيل کړې. د لومړی اړيکي له هماغو شېبو يې د خبرو خوږوالي، درانه شخصيت، علمي پوهي او صميمانه چلند پر ما ژور اغېز وکړ.

خبرې مو اوږدې شوې. د وطن، ولس، ژوند او بېلابېلو موضوعاتو په اړه مو په ډېره مينه او ورورولی مجلس وکړ. د خبرو په وروستيو کي مو د خپلي اړتيا يادونه وکړه او د تصديقپاڼي غوښتنه مو تری وکړه.

ارواښاد ډاکتر صاحب په ډېره مهرباني، خوږه لهجه او مسلکي درنښت راته وويل:
»پيلوټ صاحب، د چا لپاره چي تصديق په کار دی، که ناروغ وي او يا کومه بله ستونزه ولري، يو ځل دې ماته راشي، چي زه يې په خپلو سترګو وګورم. بيا به، انشاءالله، د ستونزې د حل لاره پيدا کړو«.
ما ورته وويل:
»ډاکتر صاحب، زه خو له تاسو څخه شاوخوا ۳۰۰ تر ۳۵۰ کيلومتره لرې اوسېږم. که درشم، نو بيا به ستاسو مېلمه کېږم او ټوله ورځ به درسره تېره کړم«.
ډاکتر صاحب په خپله ځانګړې کونړی مينه، پراخه حوصله او مېلمه‌پالنه راته وويل:
»خدای دې راوله، پيلوټ صاحب، راشه، کې به نو قيصې به وکړو«



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

د هغه دا ځو ښکلی ، خو له مینې ډکې خبرې زما په زړه کې داسې ځای ونیو چې تر نن ورځې مې نه دي هېرې شوې.

له همدې خبرو وروسته مو پرېکړه وکړه چې د ډاکټر صاحب لیدو ته ورشو.
رښتیا دا ده چې زموږ د سفر موخه نور یوازې د تصدیقپاڼې موضوع نه وه،بلکې زړه مو غوښتل چې دغه نومیالی عالم، شاعر، لیکوال او وطنپال شخصیت له نږدې ووینو، ورسره اشنا شو او د هغه له علمي تجربو، خوږو خبرو او د وطن په درد له ډک فکر څخه څه زده کړو.

بالاخره د ډاکټر صاحب حضور ته ورسېدو.
هغه ورځ زما د ژوند له هغو خوږو او ارزښتمنو ورځو څخه وه چې یاد یې هېڅکله نه زړېږي.
له ډاکټر صاحب او د هغه له درنو زامنو سره مو له نږدې پېژندګلوي وشوه. د هغوی صمیمانه هرکلي، درانه چلند، مېلمهپالنې او د کورنی فرهنګي فضا پر موږ ځانګړی اغېز وکړ.

د ډاکټر صاحب په مجلس کې یوازې عادي خبرې نه وې،هلته د علم، ادب، فرهنګ، انسانیت، وطنپالنې او د خپل ولس د راتلونکې په اړه ژورې او ارزښتمنې خبرې کېدې.

هغه د خپل هېواد او ولس له دردونو سره ژوره بلدتیا لرله. د افغانستان د پرمختګ، د ځوان نسل د زده کړو، د پښتو ژبې د ودې، ملي یووالي او یوه روښانه راتلونکې په اړه یې مثبت او هیلهبښونکي نظریات وړاندې کول.
په خبرو کې یې د یوه عالم پوهه، د یوه شاعر احساس، د یوه لیکوال ژور فکر او د یوه وطنپال انسان د زړه درد له ورایه ځرګندېده.

هغه نه یوازې یو پوه او علمي شخصیت و، بلکې یو مهربان، صمیمي، باخلاقه او مېلمهپال انسان هم و.

د هغه خوږ کورنی مجلس، د خبرو ځانګړې لهجه، ورین تندی او د مېلمنو درناوی داسې و چې انسان به یې په حضور کې د پردیتوب احساس نه کاوه.
نن چې شاوخوا یو دېرش کاله له هغې لومړۍ لیدنې تېرېږي، داسې راته ښکاري لکه پرون چې مې له ډاکټر صاحب سره لیدلي وي، د هغه په مجلس کې ناست وم او د هغه خوږې کورنۍ خبرې مې اورېدلې.

له هغې لومړۍ لیدنې وروسته مو اړیکې او پېژندګلوي دوام پیدا کړ.
کله به چې د ډاکټر صاحب سیمې ته ورتلم، هڅه مې کوله چې له خپلو دوستانو سره د هغه لیدو ته هم ورشم.
د هغه مجلس زموږ لپاره یوازې د دوستانه لیدنې ځای نه و، بلکې د علم، فرهنګ، ادبیاتو، ملي احساس او مثبت فکر یوه ارزښتمنه ناسته وه.

زه د ډاکټر صاحب د شعرونو، لیکنو او علمي او فرهنګي فعالیتونو مینهوال وم. د هغه لیکنې او شعرونه به مې په مینه تعقیبول.
ارواښاد ډاکټر کبیر ستوری د اروپوهنې د متخصص ترڅنګ یو پیاوړی شاعر، لیکوال، څېړونکی او سیاسي شخصیت هم و.

هغه د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند مشري هم کوله او د خپل ولس د فرهنګي ودې، علمي پرمختګ، ټولنیزو حقونو او سیاسي پوهاوي لپاره یې فعالیتونه ترسره کول

ما د هغه په ګنو علمي، ادبي، فرهنګي او د ګوند په غونډو او مجلسونو کې هم ګډون کړی و.
په دغو غونډو کې به د پښتنو د یووالي، د پښتو ژبې د پرمختګ، د افغانستان د راتلونکې، د ځوان نسل د روزنې او د خپل ولس د ستونزو په اړه بحثونه او خبرې کېدې.

زما لپاره په دغو مجلسونو کې ګډون یوازې په یوه غونډه کې حضور نه و، بلکې د ډاکټر صاحب د فکر، پوهې، تجربې او ملي احساس د لا ښه پېژندلو یوه ارزښتمنه موقع وه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د هغه په شخصیت کې یوه ځانګړې ښکلا دا وه چې له خپل علمي مقام او سیاسي فعالیتونو سره سره یې تواضع، سادګي، ولسي مینه او مېلمهپالنه ساتلې وه.

اروابناد ډاکټر کبیر ستوري کلونه په جرمني کې ژوند وکړ، خو د خپل ګران افغانستان، د کونړ د ښکلو درو، د خپلې مورنۍ ژبې او د خپل ولس مینه یې هېڅکله له زړه ونه ایسته.

بدن یې په اروپا کې و، خو فکر، احساس او زړه یې د خپل وطن او ولس له برخلیک سره تړلي وو.
د پښتو ژبې په اړه د هغه مینه یوازې په خبرو کې نه وه، بلکې په شعر، لیکنو، علمي هڅو او ورځني ژوند کې یې هم ځرګندېده.

د خپلې مورنۍ ژبې په اړه یې دا څلور شعري کرښې د هغه د مینې او احساس ښکلی انځور وړاندې کوي:
د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري شعر:

ساه مې واخله، خو پښتو رانه وانخلې
زه پښتون یم، په پښتو باندې پتمن یم
که زما ستوري، په قبر چېرې راشې
په پښتو راته دعا کړه، پرې مین یم

دا یوازې څلور شعري کرښې نه دي، بلکې د خپلې ژبې، فرهنګ او هویت په وړاندې د یوه شاعر د ژورې مینې او وفادارۍ ځرګندونه ده.

ډاکټر صاحب په رښتیا هم له خپلې مورنۍ ژبې سره مینه لرله او غوښتل یې چې پښتو د علم، ادب، څېړنې او پرمختګ ژبه شي.

له بده مرغه، د ۲۰۰۶ زېږدیز کال د اپریل په څلورمه د ډاکټر صاحب مړینې د هغه کورنۍ، دوستان، مینهوال او د افغانستان علمي او فرهنګي ټولنه له ستر غم سره مخ کړه.

د هغه وفات زما لپاره هم ډېر دردونکی و، ځکه ما یوازې یو عالم، شاعر او لیکوال نه و پېژندلی، بلکې یو مهربان مشر، خواخوږی دوست، د خوږ مجلس خاوند او د خپل وطن په درد دردمن انسان مې له لاسه ورکړی و.

د ډاکټر صاحب په څېر علمي، فرهنګي او وطنپال شخصیتونه د هر ملت ارزښتمنه معنوي شتمني ده.

د هغوی ځای په اسانۍ نه ډکېږي، خو نېک نوم، علمي آثار، انساني اخلاق او د وطن لپاره ترسره شوي خدمتونه یې د نسلونو په حافظه کې ژوندي پاتې کېږي.

زه چې نن د خپل ژوند هغه خوږې خاطرې راپه زړه کوم، د ډاکټر صاحب هماغه لومړنۍ جمله مې لا هم په غوږونو کې انګازې کوي:
»خدای دې راوله، پیلوټ صاحب، راشه، کې به نو قیصې به وکړو«

کاشکې یو ځل بیا هغه خوږ مجلس، هغه ورین تندی، هغه صمیمانه خندا او د وطن په مینه ډکې خبرې راژوندۍ شوې وای،

خو دا د ژوند نه بدلېدونکی حقیقت دی چې انسانان ځي، خاطرې پاتې کېږي،عمرونه تېرېږي، خو د نېکو انسانانو نومونه نه هېرېږي.

ډاکټر کبیر ستوری په نوم هم ستوری و، په علم هم ستوری و، په ادب هم ستوری و او د انسانیت او وطنپالنې په اسمان کې هم یو ځلانده ستوری پاتې شو.

د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري په یاد زما څو شعري کرښې،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ډاکټر صاحب د علمي، ادبي او فرهنګي خدمتونو او له هغه سره د خپلو نه هېرېدونکو خاطرو په یاد، دا ځلوریزه په مینه او درنښت د هغه پاکي اروا ته ډالی کوم:

ستوری لاړ، خو یې رڼا په زړونو پاتې ده
د پښتو خوږه نغمه په زړونو پاتې ده
د خپل قام په مینه وسوځېد تر پایه
د ماموند د زړه دعا په زړونو پاتې ده.

د لوی او مهربان الله تعالی له درباره ارواښاد ډاکټر کبیر ستوري ته د جنت الفردوس غوښتنه کوم.

الله تعالی دې د هغه علمي، ادبي او فرهنګي خدمتونه قبول کړي او کورنۍ، اولادونو، خپلوانو، دوستانو او ټولو مینه‌والو ته دې اجر او صبر ورکړي.
زما هیله دا ده چې زموږ ځوان نسل د ډاکټر کبیر ستوري او د هغه په څېر د نورو علمي او فرهنګي شخصیتونو ژوند، آثار او فکرونه مطالعه کړي، څکه د یوه ملت روښانه راتلونکی د علم، پوهې، فرهنګ، انساني اخلاقو او د خپلو ارزښتمنو شخصیتونو د میراث په ساتلو جوړېږي.

اروا دې ښاده، یاد دې تلپاتې او علمي او فرهنګي میراث دې د راتلونکو نسلونو لپاره روښانه مشال وي.

په ژور درنښت، مینه او نه هېرېدونکو خاطرو
ډګروال شمس‌الرحمن ماموند پیلوټ
جرمني ،اکتوبر ۲۰۲۶.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ